مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینتزی

۲۰۲۲/۰۱/۰۴

# د صمد بهرنګي

# او

# د ده د کتابونو په هکله

يو کره کتونکي (منتقد) ليکي چې د يوه ليکوال د ژورې پېژندګلوۍ له پاره بايد د هغه اثار ولوستل شي.

زه نه پوهېږم چې په افغانستان کې به څومره کسانو د ايراني ليکوال (صمد بهرنګي) کتابونه لوستي وي چې د کتابونو له لارې دغه خواخوږي او د ماشومانو ملګرى او لارښود ليکوال وپېژني. له همدې امله زه دلته د ده او د ده د کتابونو په هکله يو څه ليکم.

صمد په کال 1318 هـ. ش کې د ايران د تبريز په (چرنداب) نومي سيمه کې زېږېدلى دى. د ده پلار (عزت) او مور (سارا) نومېدل. پلار يې يو ساده کارګر و او مور د کور ښځه چې کله نا کله به يې د شيدو ماشومانو د روزني د درانده کار تر څنګ، له کورني اقتصاد سره هم مرسته کوله

وايي چې صمد په ماشومتوب کې ښه درس لوست او ډېرې شپې يې تيلي ډيوې ته سبا کړې دي. دى له منځينو زده کړو څخه وروسته د تبريز د ښوونکو د روزني موسسي ته ولاړ، صمد لا د دې موسسې د لومړي ټولګي محصل و چې د خپلو څو نورو ملګرو په مرسته يې د ديواري جريدې په خپرولو لاس پورې کړ.

صمد په دې موسسه کې له زده کړو وروسته، په کليو کې د ماشومانو روزنه غوره وبلله او د ختيځ اذربايجان د (ممقان)، (ګوګان) او (اخيرجان) په ښوونځيو کې ښوونکى شو. ده په دې ښوونځيو کې نه يوازې دا چې ماشومانو ته (الف) او (ب) زده کول؛ بلکه له دوى سره يې د ژوند، تولنيز چاپېريال، شتمن او نيستمن او کتاب په هکله خبرې کولې او هغه يې کوله چې دوى سباني ستونزمن ژوندانه له پاره چمتو کاندى..

وايي چې صمد به د خپلو زده کوونکو کورونو ته تلو، د هغوى له ميندو او پلرونو سره به يې خبرې کولې او ان دا چې هغوى ته يې ليك لوست زده کاوه او وريا کتابونه به يې ورې ويشل..

صمد په کال 1341 کې د تبريز په شپې پوهنتون کې نوم وليکه او په دې توګه هم په خپله په زده کړه بوخت شو او هم يې له نورو سره مرسته کوله چې په دې تخنيکي پېر کې په ډېرو خبرو وپوهېږي. صمد د تبريز په کليوالو ښوونځيو کې هغه ستونزو ته ځير و چې د ايران د هغه وخت د ښووني او روزني سيستم درلودى. ده وليدل چې د کليو ښوونځي څومره ساده و. څو ختيني خونې، ډنګر، خيرن، نيم بربنډ او نيم وږي ماشومان او داسي ښوونکي چې ډېر يې په خپل ژوند پورې اريان وو!

صمد په دې کلونو کې لومړى د ايران د ښووني او روزني د نيمګړتياوو په هکله ليکني پيل کړې. داسي ښکاري چې ده طبقايي اند دود درلود او غوښتل يې چې هغه نيمګړتياوې برسيره کړي چې د پهلوي ايران په ټول نظام او پوهنه کې وې. صمد همدا راز د ماشومانو او تنکيو ځوانانو له پاره د کيسو په ليکلو لاس پورې کړ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

ده لومړی د (عادت) (1339) کیسه ولیکله، وریسې د تلخون (1340) او (بې نومه) (1342) کیسې خپرې شوې. د صمد لومړنی کتاب (اولدوز او کاغی) نومېده چې د خپل یوه ملګري د میرني ورور د ژوند له مخې یې لیکلی و. دا کتاب د ماشومانو او تنکیو ځوانانو ډېر خوښ و او ژر بیا بیا چاپ شو. صمد له دی وروسته ډېر نور وړوکي کتابونه هم ولیکل چې ځینې یې دا دي: وړوکی تور کب، کوراوغلو، یو الو او زر الو، د مینې افسانه، 24 ساعته ویښ او ویده، چغندر خرڅوونکی هلك، زوړ وز، وړی مورك او داسې نور.

مورنۍ ژبه د بل هر انسان په څېر په صمد ګرانه وه. د صمد مورنۍ ژبه اذری (اذربایجاني) وه. ده د تدریس په کلونو کې د خپل ولس ډېر فولکلوري مواد ټول او ځینې (کیسې او متلونه) د خپل یوه اذری ملګري په مرسته چاپ کړل. صمد د بهروز دهقاني سره په ګډه د اذربایجان کیسې په فارسي وژباړلې او د ایران د هغه وخت د سترو شاعرانو (نیمایو شیخ، احمد شاملو، فروغ فرزاد او امید) شعرونه یې په ادزی چاپ کړل..

صمد اتلس کلن و چې په ختیځ اذربایجان کې په کار لګیا شو. سره له دې چې ده له لوړو زده کړو او ژورې مطالعې سره ډېره مینه درلوده؛ خو له پلار سره د مرستې اړتیا دې ته اړ کړ چې ژر په کار ولګېږي او معاش واخلي. صمد د کار په وخت کې خپلې هیلې خاورې نه کړې او له مادي او معنوي بېوزلتوب څخه د خپل ځپل شوي ولس، د خلاصون د لارو چارو د موندلو له پاره په ژورو فکرونو کې ډوب و. ټولنیزه نا انډولي، د ملي عوایدو ناسم وېش، اخلاقي فساد، فقر، لوږه، بېسوادي او ... هغه عوامل وو چې د صمد د فکري جوړښت له عناصرو سره مرسته وکړه او هغه یې د خوارو پرګنو په څنګ کې ودراوه. صمد له همدې امله په تهران کې دنده ونه منله او په اذربایجان کې پاته کېدل یې ځکه غوره وبلل چې له خلکو څخه به ډېر څه زده کړي او د هغوی د نیمګړو ارمانونو د پوره کوله له پاره به یوه وړوکې اتل جوړ شي.

صمد هغه شاعران او لیکوال نه خوښول چې ویل به یې (دریغې د شرابو په پیاله کې یو وړوکی کب وای!) یا به یې د شرابو د بدمستیو په محافلو کې د بېوزله خلکو او د هغوی د ادبیاتو په هکله خبرې کولې او یا به یې ماشومان، تنکي زلمیان او ځوانان د ژوند له ترخو واقعیتونو څخه لیرې ساتل او هغوی ته به یې ملا ډوله اشرافي نصیحتونه کول چې ښه کوئ او بد مه کوئ!

صمد به د خپل معاش په نیمایي پیسو کتابونه اخستل، ده به خپل کتابونه هم په ارزانه کاغذونو چاپول او بیا به کلي په کلي ګرځېد او دا ګټور کتابونه به یې په ماشومانو او تنکیو زلمیانو وېشل او له هغو سره به یې د ژوند، پوهنې، کتاب او د خپلو کتابونو د اتلانو په هکله خبرې کولې. ده نه غوښتل چې ماشومان او تنکي زلمیان د رژیم د تبلیغاتي یرغل په وړاندې ماته وخوري او د کوکي نانځکو په شان هر ډول ته وګډېږي. صمد به ویل چې تنکي زلمیان باید د انساني ټولنو د تاریخ او ودې په هکله سم او علمي پوهه او درك ولري او د سباني ستونزمن ژوندانه د تېرولو له پاره پوره چمتو شوي وي.

صمد غوښتل په خپلو کتابونو کې دا خبره وکړي چې که ماشومانو او تنکیو زلمو ته وایو چې درواغ بد دي، ولې دا نه ورته وایو چې ولې خلك درواغو ته اړ کیږي؟ که ورته وایو چې غلا بده ده، ولې دا نه ورته وایو چې کوم عوامل له یوه سړي څخه غل جوړوي؟ او که ورته وایو چې باید مهربانه واوسې، دا هم باید ورته ووایو چې په چا باندې مهرباني په کار ده او له چا څخه کرکه؟ ایا په هغه انسان باندې چې په نورو خلکو بمونه او اور وروي، هم مهرباني په کار ده او که څنګه؟

ما له ۱۳۵۴ څخه تر ۱۳۵۷ پورې د صمد بهرنګي دری نسبتا اوږدی او یوه لنډه کیسه پښتو ته وژباړلې: وړوکی تور کب، د مینې افسانه، اتل او سبینه پشۍ او توره پشۍ

د وړوکي تور کب نامتو کیسه په سمبولیکه ژبه د ماشومانو د پاره لیکل شوې؛ خو په اصل کې د لویانو له پاره یو درس بلل کېږي. په دی کیسه باندې په ایران کې د ننه او بهر ډېرې کره کتنې لیکل شوي دي. ځنې کره کتونکي وایي چې صمد په دی کیسه کې یو ځانګړی اتل (منفرد قهرمان) روزلی چې شخصي هڅه یې ډېره بریالۍ نه ده. دوی هغه تور کب ته ګوته نیسي چې غواړي د سیند پای ومومي او د دی هدف د ترلاسه کولو له پاره، ډېرې ستونزې ګالي؛ خو نور کره کتونکي بیا وایي چې (نه) صمد وړوکی تور کب له نورو مبارزینو سره یو ځای په مخ خوځوي او ده ته د نورو د لارښوونکي دنده سپاري.

وړوکی تور کب له هغې ورځې څخه چې پریکړه کوی چې خپل محدود ژوند پرېږدي او د سیند د پای په لور خپل تاریخي سفر پیل کړي، له ډېرو داسې څېرو سره مخامخ کېږي چې دی د دې کار جوګه نه بولي او په لاره کې یې د احتمالي خطرونو څخه ویروي؛ خو وړوکی تورکب د ځینو نورو کسانو په مرسته بریالی په مخ ځي او.....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په دی کیسه کې د صمد هره خبره حساب شوې او هر کرکټر تولنیز وجود لري او د لیدلو او لمس وړ دی.

د دې کتاب دوهمه کیسه (اتل) نومېږي چې په اصل کې یوه اذربایجاني کیسه ده او دا اتل ( کوراوغلو یا گوراوغلی) دی. داسې ښکاري چې د کوراوغلو کیسه ډېر لرغونی تاریخ لري او د روایتونو، ځایونو او نومونو په توپیر په اذربایجان، ایران، ترکمنستان او د افغانستان په شمال ختیځو برخو کې تر اوسه هم په خلکو کې ډېر خوښوونکي لري. ما اورېدلي دي چې اوس هم د ژمیو په اوږدو شپو کې د افغانستان د بدخشان په ځینو حجرو او جوماتونو کې د ګوراوغلي د حماسي د اورېدلو غونډې جوړېږي او سیمه ییز راویان دا کیسه له بدلو او حتی ساز سره حاضرینو ته اوروي.

کوراوغلو د هغه ظالم خان د ژوند کیسه ده چې د خپل یوه غلام سترګې وباسی. کوراوغلو د همدغه غلام زوی دی چې د مبارزینو غرنی اډې ته تښتي او د هغوی د مشر په توګه له خانانو سره جنګېږی او هغوی ته ماتې ورکوي. په دی کیسه کې د یوې خوندورې مینې انګازی هم شته چې زه یې دلته په تفصیل نه کاږم او لوستونکو ته بلنه ورکوم چې دا کیسه ولولي. له هغه ځایه چې د کیسې د اتلانو او ځایونو فارسي یا اذری نومونه په پښتو کې ډېر مانوس نه ښکارېدل، نو ما په کیسه کې ټول نومونه اړولي دي.

د کتاب دریېمه کیسه (د مینې افسانه) نومې چې د یوه پاچا د لور او یوه عادي ځوان د مینې په هکله لیکل شوې ده. دا کیسه لومړی ځل په کال 1357هـ.ش کې په کابل کې د بیهقي کتاب خپرولو د موسسې له خوا چاپ شوې و چې بیا نایابه شو. د دغه کتاب په پای کې اتلان د کوترو په څېر د لمر په لور الوزي او.....

سپینه پشی او توره پشی د دې کتاب څلورمه او لنډه کیسه ده. په دې وروستیو کلونو کی، د صمد دا څلور کیسی په یوه کتاب کی( د مینی افسانه) په نامه، د دانش خپرندویه ټولنی د مشر ، ښاغلی اسد جان دانش، په همت په کابل کی خپری شوی چی اوس بیا نه پیدا کیږی او ځکه یی د ځینو وییاپانو له لاری له تاسو ښاغلو لوستونکو سره شریکوم.

افغان-جرمن انلاین پخوا د ( اتل) او ( وړوکی تور کب) کیسی خپری کړی او ژر به دا دوه پاته ( د مینی افسانه) او ( سپینه پشئ او توره پشئ) هم تر تاسو پوری ورسوی.

او د پای خبرې به دا وي چې ایران زموږ ورور ګاونډی هېواد دی چې خورا ستر فرهنګي میراث لري او هر کال په زرګونو کتابونه پکې خپرېږي. ما د صمد د کیسو مجکوعه ځکه په پښتو ژبه چمتو کړ چې له یوې خوا د یوه ایراني لیکوال له کار سره بلد شو او له بلې خوا له فارسي ژبې څخه پښتو ته د کتابونو ژباړه پیل کړو او په دې توګه په ډېره اسانه توګه هغه په زرګونو کتابونه پښتو ته وژباړو چې د ایران خورا پیاوړي محققین او مترجمین یې په فارسي لیکي او یا له نورو ژبو څخه فارسي ته رااړوي.

ګرانو لوستونکو! د دی کتاب ټولي کیسې د 54 – 1357 کلونو تر مینځ ژباړل شوي او له ما سره خوندي وې چې دا دی پس له ۴۳ کلونو څخه یې ستاسو درانه حضور ته وړاندې کوم. هیله ده چې تنده مو پرې ماته شي.

صمد بهرنګي له یوه لنډ؛ خو ډېر وياړلی، ژمن، انساني او ګټور ژوند څخه وروسته په 1347 کې په (ارس) سیند کې ډوب شو او ومړ. دی د مړینې په وخت کې 29 کلن و. ځینې کسان لیکي چې د پهلوي رژیم پټو پولیسو صمد وواژه؛ خو ځینې نور بیا وایي چې (نه) هغه په اوبو کې د ډوبېدو له امله په خپل طبیعي مرګ مړ شوی دی.

په هر صورت د صمد په مرګ ایران او نړی خپل یو ډېر خواخوږی او متعهد فرهنګي شخصیت له لاسه ورکړ. که صمد ژوندی وای، هرو مرو به یې ډېر نور کار هم کړای و.

مننه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ